ILSAA

خدمات حقوق مهاجرت برای افغانها



# ولې باید د متحده ایالاتو غیرتبعه رایه ورنکړي یا په ډېرو مواردو کې د رایې ورکولو لپاره نوم لیکنه ونکړي؟ *

**رایه ورکولو حق د متحده ایالاتو د تابعیت لرلو یوه مهمه برخه ده . ځکه یوازې د متحده ایالاتو اتباع اجازه لري چې رایه ورکړي یا د رایه ورکولو لپاره نوم لیکنه وکړي. ***



رایه ورکولو لپاره نوم لیکنه یا د متحده ایالاتو د تابعیت د ترلاسه کولو څخه مخکې د رایه ورکولو هڅه به تاسې د قانوني ستونزې سره مخامخ کړي. تاسو ممکن لدې امله جریمه شی ، زنداني شی او یا هم د متحده ایالاتو څخه اخراج یا وشړل شی.

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

تاسو اړتیا نلرئ چې د موټر چلولو (ډریورۍ) د جواز ترلاسه کولو لپاره د متحده ایالاتو تبعه اوسئ. بیا هم پام کوئ، ځکه چې په ځینو ایالتونو کې د موټر چلولو د جواز د فورمو سره یوځای د رایه ورکولو د نوم لیکنې فورمه هم ضمیمه وي.



- لارښوونې په غور سره ولولئ
- که تاسو د متحده ایالاتو تابعیت نلرئ نو د تابعیت لرلو ادعی یې هم مه کوئ
- په ناپوهۍ کې د رایې ورکولو لپاره نوم لیکنه مه کوئ

**خلک ممکن ستاسو څخه په لاندې ډول د رایې ورکولو غوښتنه وکړي:**



- د ټیلیفون له لارې
- د بریښنالیک یا مسج (پیغام) له لارې
- د پوستې (میل) له لارې

**خلک ممکن ستاسې څخه په لاندې ځایونو کې وغواړي چې د رایه ورکولو لپاره نوم لیکنه وکړئ**



- ستاسو کور ته درشي
- په پلورنځیو کې
- په غونډو کې

**بیا هم، که تاسو د متحده ایالاتو تابعیت نلرئ، او څوک ستاسې څخه د رایه ورکولو لپاره د نوم لیکنې غوښتنه وکړي، یواځې ورته وویاست چې: "نه، مننه"**

*غیر تبعه اشخاص، د قانوني دایمي اوسیدونکو په شمول، نشي کولای په فدرالي، ایالاتي او ډېرو سیمه ایزو ټاکنو کې رایه ورکړي. دا چې څوک رایه ورکولی شي او څوک نشي ورکولی ، پدې اړه د هرې پوښتنې لپاره دخپل ایالتي یا سیمه ایز د ټاکنو دفتر سره اړیکه کې شئ. (https://www.usa.gov/who-can-vote)


د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوی او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادی سیالۍ له لارې ترلاسه کړي دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره دمهاجرت حقوقی خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(٪۱۰۰) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیزي.


USCRI